نظر محمد مطمئن ۲۰۱۶/۱۰/۲۰

# د طالبانو، امریکا او افغان حکومت

## تر منځ د سولې پټې خبرې

ګارډین او رویټرز راپورونه نشر کړل چې د طالبانو، امریکا او افغان حکومت ترمنځ د سولې پټې خبرې شوې.

افغان حکومت محتاط غبرګون وښود، دا خبرونه یې نه رد او نه هم تاید کړل. دا ډول د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر ویاند ښاغلی سهیل شاهین یواځې د امنیت ملي د مشر معصوم ستانکزي سره د لیدو خبرې رد کړې، له امریکا او افغان حکومت سره یې د خبرو تردید نه دی کړی.

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد بیا له معصوم ستانکزي او  د افغان حکومت له چارواکو سره پټې خبرې رد کړې، پداسې حال کې چې د امریکایانو سره یې خبرې نه دي رد کړې.

طالبانو ته نږدې سرچینې بیا وایي چې له امریکا سره نږدې د روان کال د فیبروري میاشتې  راهیسې د طالبانو خبرې رواني دي، او په دې موده کې څو ځله له امریکایانو سره لیدنې کتنې شوي، دا ډول د ا هم بعیده نه ده چې په یاده موده کې به  د افغان چارواکو سره هم تماسونه نیول شوي وي.

ممکن چې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ دا ډول افغان چارواکو سره د تماسونو په وخت کې د طالبانو لخوا د بهرنیو پوځیانو د وتلو او یا هم د وتلو مهالویش باندې بحثونه شوي وي، فکر کیږي چې طالبانو ته به تر ډیرو نورو مسایلو د بهرنیانو وتل او یا هم د وتلو مهالویش اړین وي.

دا ډول د یو داسې نظام چې افغان شموله وي، او ښکیلو سیاسي او نظامي جهتون ته د منلو وړ وي، د واک انحصار پکې نه وي، د قطر دفتر په رسمیت پیژندل او له دې سره د طالبانو نومونه له تورلسټ څخه لیرې کول هم هغه مسایل دي چې د خبرو په جریان کې به پرې بحث شوی وي.

افغان حکومت او امریکا ممکن د طالبانو څخه د اوربند غوښتنه ولري، داچې په ټول هیواد کې په یو وخت کې د جګړې اړوند اوربند به  مشکل وي، ممکن په ځینو نورو لارو چارو هم فکر شوی وي، البته که مذاکرات مخکې ولاړ شي.

د اوربند اړوند داسې امکانات به هم موجود وي که چیرته له کومې سیمې او یا ولایت څخه په بشپړ ډول بهرني پوځیان وځي، او هغه سیمه امن اعلان شي چې طالب په خپلو سیمو کې او حکومت په خپلو سیمو کې و اوسي،  مثلا هلمند څخه بهرني پوځیان که ووځي، او اوربند باندې خبرې وشي.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

دا ډول سيمي د توازن پر بنياد تر هغه وخت پوري چي په نظام باندي هوکړه کيږي، د محلي ادارو لخوا کنټرول شي، هغې سيمي چي له طالبانو سره دي، هلته به د هغوی واک وی، او چيرته چي مرکزونه او د حکومت کنټرول وی، هغه سيمي به د حکومت تر کنټرول لاندي وي. يو مخيز او په بشپړ ډول اوربند به مشکل وي.

بهرنيان او افغان حکومت به غوښتنه لري چي په اساسي قانون کي تغيرات مني، ولي ټيګار به کوي چي ځيني فصلونه چي ډيموکراسي او د ښځو حقونه، د بشر حقونه، د حکومت بڼه، په دي فصلونو کي د تغير څخه مخنيوی وشي، ولي د طالبانو لخوا منل به يي جنجالي او ستونزمنه مسئله وي.

داچي اوسنی نظام دي له يوې مخي له منځه ولاړشي، فکر کوم هيڅ سياسي او ښکيل جهتونه به دا ونه غواړي، بلکې د نظام جوړښت او تشکيل وساتل شي، ولي اړين اصلاحات پکي راوستل شي.

ويل کيږي چي د طالبانو لخوا هم د افغان حکومت سره په راتلونکي کي د خبرو او مذاکراتو په تګلاره باندي غور کيږي، ترڅو داسي تګلاره جوړه شي چي د هغې په رڼا کي خبرې دوام پيداکړي.

د طالبانو د قطر سياسي دفتر د سولي د مذاکراتو په موخه پرانستل شوی، او طالب استازي د سولي مذاکراتو په موخه هلته تللي دي، داچي په نړيوالو کانفرانسونو کي طالبانو ويلي وو چي د دوی سره د جګړې مهم جهت امريکا ده، بايد امريکا مخامخ خبرو ته حاضره شي، او دا ډول بين الافغاني تفاهم ته هم زمينه مساعده شي. ولي په تيرو وختونو کي امريکايان د طالبانو سره مخامخ خبرو ته نه حاضريدل، دوه کاله مخکي جاپان هيواد کوشش وکړ چي د طالبانو او امريکايانو ترمنځ مخامخ خبرو ته زمينه جوړه شي، ولي په وروستيو شيبو کي امريکايانو وويل چي طالبان بايد رسما امريکا ته د خبرو وړانديز وکړي، هغه څه چي طالبانو ونه کړل، خبرې ونه شوي.

ناروي هيواد هم زمينه برابره کړه، سيد طيب آغا د هغه وخت د طالبانود قطر د فتر مشر ناروي ته سفر وکړ، امريکايانو موافقه کړي وه چي د طالبانو له استازو سره به خبرې کوي، ولی بيا هم امريکايانو غوښتل چي د خبرو وړانديز د طالبانو لخوا وشي، هغه څه چي طالبانو ونه کړل. او خبرې ونه شوي.

د پګواش دويمه ناسته چي قطر کي وشوه، يو شمير افغان سياستوالو ژمنه وکړه چي د امريکا او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرو ته به زمينه مساعده کړي، دوی امريکا ته پرله پسي سفرونه وکړل، امريکايانو ته يي ممکن قناعت ورکړی وي، چي بالاخره امريکايان د طالبانو سره د افغان کشالي د حل په موخه په قطر کي کيناستل، او د امريکا له کيناستلو وروسته افغان حکومت هم خپل کسان قطر ته د طالبانو سره خبرو ته وليږل.

د جهتونو ترمنځ به ممکن منل شوې وه چي د خبرو دا جريان به پټ ساتل کيږي، تر څو يو ډول نتيجه پرې مرتب شي، شک کيږي چي امريکايانو به دا خبرې ګارډين او رويټرز ته ورکړي وي. تر څو د خبرو دا لړی بيا ځل ودرول شي.

د سولي د خبرو دا يو ښه پرمختګ وو، چي پټي پاتي شوې وای، ممکن د دوو لاندي عواملو له امله خبرې رسنيزې شوې وي.

۱ – داچي جګړه شدت مومي، طالبان پرمختګ کوي، ددي لپاره چي جګړه مهار کړل شي، د طالبانو مورال کي کموالي راشي.

۲ – داچي امريکا کي دوه مياشتي وروسته انتخابات کيږي، د افغانستان وضعيت (جګړه او سوله) د امريکا پر انتخاباتو تاثير لري، ډيموکراټان غواړي چي په افغانستان کي د سولي برخه کي امريکايي ولس ته خپل پرمختګ وښيي.

د سولې مخ کې خنډونه

هر کله چې د سولې اړوند پرمختګ کیږي، مخکې یې خنډونه په کور دننه، ګاونډیو او یا هم امریکا او نړیوالو لخوا پیدا شوي. د قطر دفتر پرانستل د سولې لپاره مثبت قدم وو، ښاغلي کرزي یې مخالفت وکړ، په دویم بن کې د قطر دفتر درسمي کیدو مخه کرزي ونیوله، له دې مخکې میاشتې میاشتې پاکستان کوشش کاوو چې د طالبانو رسمي دفتر د قطر پر ځای پاکستان کې وي، او دقطر دفتر سره یې مخالفت کاوو.

جاپان او فرانسه کې نړیوال کانفرانسونه وشوو، د طالبانو او حکومت استازو پکې ګډون درلود، ښکاره پرمختګونه ولیدل شوو، پلان وو چې ترکمنستان کې د طالبانو د رهبري شورا دوه غړي او د قطر سیاسي دفتر دوه غړي ګډون وکړي، بیا هم د کرزي د حکومت لخوا هغه کانفرانس ته اجازه ورنه کول شوه.

ولسمشر غني له پاکستان سره اړیکې دومره چټکې وپاللې چې د ډیپلوماټیکو اصولو مراعت یې هم ونه کړ، د پاکستان د لوی درسیز دفتر ته ورغی، د پاکستان د مري ښار کې مذاکرات یو ډول وشوو، مګر ډیر ژر د ملامحمد عمر مجاهد د دمرګ خبرونه پاکستاني رسنیو ورکړل، او هغه پروسه ټکنی او ختمه شوه.

څلور اړخیزې ناستې پیل شوې، امریکا، چین، پاکستان او افغانستان څلور ناستې وکړې، پاکستان ژمنه کړې وه چې طالبان به خبرو ته کینوي، ونه توانیدل، او دا پروسه هم ودرول شوه.

د پګواش دوېمه ناسته وشوه، طالبانو پرې باور درلود، پرمختګ وشو، افغان سیاستوال وتوانیدل چې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ مخامخ ناستو ته زمینه برابره کړي. افغان دولت سره تماسونه ته زمینه برابره شوه، پاکستان پکې خبر نه وو، کله چې پاکستان د پټو خبرو اړوند معلومات ترلاسه کړل، د طالبانو ځیني مشران یې ونیول او زندان ته یې یوړل.

مولوي احمد الله نانی، د طالبانو د رهبري شورا غړی، چې د یادو پټو خبرو ملاتړی وو، ونیول شو، ثاني ملاصمد او سلیمان اغا د طالبانو دویمه کچه مهم غړي هم پاکستان ونیول، ممکن دا لړۍ دوام پیداکړي او ځیني نور طالب مشران هم ونیول او یا ستونزې ورته پیداشي، هغوی چې د سولې د مذاکراتو سخت پلوي کوي، او دقطر دفتر سیاسي لاسته راوړنو ته په مثبت نظر ګوري، دوی ته پخوا هم ستونزې پیداشوې او راتلونکي کې هم ممکن په سېمه کې ورته ستونزې پیداشي.

حالاتو ته په کتو سره که پاکستان د طالب مشرانو نیولو ته دوام ورکړي، ممکن طالبان هم سخت غبرګون وښیي او پایلې یې ممکن دواړو لورو ته خطرناکې وي.

سوله د پاکستان له نظره

پاکستان غواړي چې د افغان سولې اړوند هر ډول خبرو اترو کې داخل او مهم رول پکې ولري، له همدې امله د طالبانو نیول کوي، او پر طالبانو فشار راوړي چې خپل امتیازات په سوله کې خوندي کړي.

د افغان سولې قربانیان د پاکستان او کرزي د حکومت په وخت کې د طالبانو د دفاع وزیر ملا عبیدالله اخوند، ملا برادر اخوند، استاد یاسر او ملا اختر محمد منصور یادولای شو، دا ډول نږدې ۱۲ نور کسان چې د سولې اړوند یې په تیرو لسو کلونو کې هڅې کړې، هغوی وژل شوي او یا هم له ستونزو سره مخ شوي.

کله چې د طالبانو د سیاسي کمیسون مشر مولوي عبداللطیف منصور په اماراتو کې له کای آی ډي سره د سولې خبرې په ۲۰۱۲ کې پیل کړې، ډیر ژر هغه د پاکستان له لوري ونیول شو، او پرځای یې د طیب اغا اعلان هغه وخت وشو، چې کله له پاکستان څخه وتلی وو.

طالبان داسي نظريات لري چې د سولې خبرې د طالبانو قطر دفتر له لاري مخکې یوړل شي، مګر په اعتماد کې پاکستان او نور ګاونډي هیوادونه هم باید واخیستل شي، پاکستان غواړي د سولې مذاکراتو کې مطرح وي، ولې طالبانو د سولې مذاکراتو لپاره د اوس مهال لپاره قطر انتخاب کړی.
د پاکستان توقع ده چې د سولې مذاکراتو کې په افغانستان کې د هند نفوذ کمولو امتیاز ترلاسه کړي، د بلوچستان مسئله یو طرفه کړي، د کشمیر مسئله کې له هند او نړیوالو امتیاز ترلاسه کړي.
د طالب مشرانو نیول به لنډ مهال پر طالب خوځښت منفي تاثیر ولري، ځکه مشران به یې پټ او پاشلي وي، ولې داچې د طالبانو نظامي کسان د هیواد په داخل کې دي ، د پاکستان لخوا یې د نیولو او تهدید ویره کمه ده، او نظامي خوځښتونه او پرمختګونه او شاتګ ټاکونکی وي.
افغان حکومت او افغان ولس ته د پاکستان له خوا د طالب مشرانو په نیولو کې ګټه نشته، د سولې مسئله نوره هم ځنډنۍ کولای شي. او داخبره روښانه ده چې پاکستان د افغان حکومت د ګټو لپاره طالب نه نیسي، بلکې خپل امتیازات اخلي، که داسي نه وی، ملابرادر اخوند به یې د کرزي او یا غني حکومت ته سپارلی وای.
پاکستان ممکن افغانستان کې سوله وغواړي، او ممکن ویې نه غواړي، که د امریکا ګټې په نظر کې ولري، او امریکا په افغانستان کې د جګړې د دوام تګلاره مخکې وړي، غواړي چې روسیه، منځنی اسیا او چین له دې ځایه تر تهدید لاندې وي، دلته د جګړې نوې پروژې مخکې یوسي، په دې صورت کې بیا پاکستان فرا منطقوي ګټې نظر کې نیسي او په افغانستان کې به د سولې مخالفت کوي.
داچې پر افغانستان د امریکا تر حملې وروسته په پاکستان کې هم ستونزې ورځ تر بلې زیاتیږي، د پوځي او ملکي حکومت ترمنځ اختلافات هر وخت مخ په زیاتیدو دي، اوس مهال د پاکستان نږدې ټول سیاسي ګوندونه پرته له عمران خان ګوند څخه د پوځ په خلاف دي، او پوځ هم د ملکي او سیاسي ګوندونو سره ښه روابط نه لري، هغه څه دي چې پاکستان هم له ستونزو سره مخ دی. او که په افغانستان کې سوله رانشي، همدا ستونزې به نورې هم زیاتې شي، او پاکستان به له بحران سره مخ کیږي.
بلوچستان مسئله د پاکستان لپاره د دوی د ۱۶ کلنې ناسمې تګلارې زیژنده ده، بلوچ ازادي غوښتونکې په وازه خوله د هند د مرستو او ملاتړ غوښتنه کوي، که په افغانستان کې سوله رانه شي، پاکستان ممکن د وخت په تیریدو بلوچستان له لاسه ورکړي. دا ډول د کشمیر مسئله هم په دغسې کمزوري حالت کې پاکستان نه شي حل کولای، او د هند د نفوذ او قوت مخه به ونه شي نیولای.
سوله د افغان لورو له نظره
حکومت، سیاسي ګوندونه، مدني ټولنې، چپې او ښې لورې دا ډول طالبان، هر لوری د سولې بېلابېل تعریفونه او وړاندیزونه لري.
حکومت کې ټول کسان د سولې اړوند یو ډول نظر نه لري، ځیني یې سوله د خپلو ګټو او تعریف له مخې غواړي، ځیني مطلق له طالب سره د سولې د مذاکراتو مخالف دی، او ځیني بیا د امریکا او بریتانیا لارښوونو ته منتظر وي. په حکومت کې د سولې اړوند پریکړه کوونکې په شمار څو کسان کیدای شي، په پریکړو کې د ډیرو خلکو نظرونه او وړاندیزونه نه اخیستل کیږي.

د سياسي ګوندونو ځيني مشران د طالبانو سره سوله په موقت حکومت پوري مشروط تعريفوي، ځيني د طالبانو سره د سولې دخبرو مخالف او ځيني بيا داسي نظريات او ړانديزونه لري چي اصلاً شوني نه وي، او د سولې مخ کي خنډونه ګڼل کيږي.
مدني فعالان چي تر ډيره په هيواد کي دننه فعال دي، د ځينو نړيوالو ادارو سره تماسونه او روابط لري، ډير لږ يي د سولې پلويان دي، مګر ډيری يي د د سولي په اړه محتاط او حتی ځيني وختونه منفي غبرګون ښيي.
پخواني پرچميان، ډيری يي له طالب او حزب اسلامي سره د سولي پلويان نه دي، اوسمهال په واک کي دي، غني ورته ډير امتيازات او امکانات ورکړي، د راتلونکي حکومت د مشرتوب لپاره کار کوي، او ممکن راتلونکی مشر د پخواني پرچم ډلي څخه وي، البته که امريکايان او بريتانويان خپل حضورپه ۲۰۱۷ ز. کال کي همداسي وساتي.
خلقيان بيا ډيری د طالب او حزب اسلامی سره د سولي پلوي کوي.
پخواني مجاهد مشران تر ډيره په يوه نظر دي، او سوله د حکومت سره داسي غواړي چي طالبان د اوسني حکومت سره جوړ راشي، او د همدي اوسني نظام او حکومت له ټولي کمزورتيا سره بيا هم د اصلاح او سمون هڅي يي وشي.
طالبان بيا داسي سوله غواړي چي د اوسني حکومت پرځای داسي حکومت اعلان شي چي ډيری افغانانو او ښکيلو لورو ته د منلو وړ وي، تر ډيره د موقت او سرپرست حکومت خبره کوي، د بهرنيو پوځيانو د وتلو مهالويش له تضمين سره معلوم شي، د نظام شکل او استقلاليت تعريف شي، چي د افغان ولس ډيری برخه هم د همدغسي سولي او نظام غوښتونکي دي.
سوله د امريکا او اروپا له نظره
امريکا غواړي چي په سيمه کي جګړه توده وي، تر څو چي ډير فشار پري نه وي راغلي، ممکن هغه ډول سوله ونه مني کوم چي طالبان يي غواړي، امريکا په افغانستان کي پر خپل نظامي حضور باندي ټينګار کوي، او نظامي حضور څخه يي د ځينو نورو موخو ترڅنګ ممکن داهم وي چي د پاکستان اتومي بټی تر کنترول لاندي راولي، دا ډول امريکا به پر پاکستان فشار زياتوي، هند ته به په سيمه کي نفوذ ورکوي، چين به د امريکا د هند د نفوذ زياتولو له تګلاري سره مخالفت کوي، چين به په لوبه کي عملي اقدام ته مجبوره کيږي، او په دي ډول به امريکا د چين پر وړاندي د هند ملاتړ کوي.
ډيری پوهان په دي نظر دي چي روسيه په سوريه کي له امريکا سره ګډي ګټي لري، داچي امريکا د سوريي د خرابولو او تجزيه کولو کي له خپلو عربو متحدينو سره ستونزه لرله، نه يي شوای کولای مخامخ داکار وکړي، روسيه چي له عرب هيوادونو سره ملګرتيا نه لري، له دي لاري امريکا او روسيي په ګډه د سوريي د پوځ له منځه وړلو پروژه عملي کړه، او د سوريي د تجزيي پلان لري.
دا ويره هم شته چي ممکن افغانستان په يو بل سوريه واوړي، او دلته به روسانو ته د مداخلي او جګړه کي د ښکيلتيا لپاره زمينه برابره شي، ترڅو پاکستان او چين د امريکا او روسيي لخوا په ګډه کمزوري کړل شي، ايران به هم د امريکا او روسيي ترڅنګ ولاړ وي.
ولي دا امکان هم شته چي روسيه د داعش پروژي د مخنيوي لپاره له امريکا سره مخالفت کي واقع شي، او په افغانستان باندي د سوريي په ډول حملي پيل کړي، په هره برخه کي زيان افغانانويني، ګټه به يي امريکا او روسيي ته ځي.
اروپايي هيوادونه ځيني يي په افغانستان کي د سولي پلويان دي، مګر د امريکا له ګټو څخه نه شي تيريدای، او ځيني بيا کاملا د امريکا تګلارو ته په افغانستان کي ترجيح ورکوي، امريکا هم توانيدلي چي اروپايي هيوادونه په روسيي

وویروي، هغه روسیه چې په ۱۹۹۰ ز.کلونو کې له منځه تلونکي وه، مګر امریکا په پښو ودروله، له روسیې سره یې ډیرې زیاتي اقتصادي مرستي وکړي،  ترڅو اروپایي هیوادونه د امریکا مقابل کې کله هم د ازادي او خپلواکو پریکړو خاوندان نه شي.

ټول افغان جهتونه باید متوجه شي چې زموږ په هیواد کې هیڅ یو پردي سوله نه غواړي، ګاونډي هیوادونه، د سیمې هیوادونه، امریکا او روسیه خپل اهداف مخکي وړي.

د سولې وړاندیز

د ښکیلو جهتونو، افغان سیاستوالو، د ولس له رښتینو استازو سره له ناستو او نظرونو شریکولو له امله زه په پوره ډاډ سره ویلای شم که افغان جهتونه د سولې اړوند انعطاف وکړي، بین الافغاني تفاهم ته ترجیح ورکړي، د پردیو د شومو اهدافو څخه ځانونه وژغوري، او د تلپاتي سولې لپاره لاس په کار شي، کومې د سولې هڅې چې پیل شوې، ننګه یې وکړي، او د کامیابی لپاره یې له خپلو شخصي ګټو او حرص څخه تیر، ملي ګټو او سولې ته د رسیدو لارو چارو ته ترجیح ورکړي، حتما به مثبت نتیجه ورکړي، او د سولې توقعات به مو تر ډیره حده پوره شوې وي.

نظرمحمد مطمئن

۲۰۱٦/۱۰/۲۰